CPAG
گروه دادخواهی حفاظت از افراد ملکی
د ملکي وګړو خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ
Civilian Protection Advocacy Group

## (رسنیزه خبرپاڼه)

کابل:- نېټه۲۰۱۷/۰۷/۰۸

## ملکي مرګ ژوبله دې ودرول شي.

د ملکی وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ یوځل بیا په هېواد کې د ملک ي مرګ ژوبلې پر زیاتوالي اندېښنه ښودلې او له جګړه یزو ډلو څخه غوښتنه کوي چې د ملکي خلکو خوندیتوب ته کلکه پاملرنه وکړي.

ددغه ګروپ د ۲۰۱۷ م کال د تېرې جولای میاشتې را ټولې شوې شمېرې ښیي چې د افغانستان په شلو ولایتونو کې( ۲۲۲) ولسي وګړي شهیدان او( ۲۲۵) نور ټپیان شوي دي.

د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ چې د (CPAG) تر نامه لاندې د ۲۰ بېلا بیلو مدني بنسټونو څخه جوړ شوی پرکابل سر بیره د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د ملکي وګړو لپاره د خوندیتوب او عدالت غوښتنې په برخه کې کار کوي.

ددغه ګروپ استازي یو ځل بیا په جګړه کې له ښکېلو غاړو څخه غوښتنه کوي چې د ولسي خلکو مرګ ژوبلې ته جدي پام وکړي، ځکه د هغوی د صبر کاسه نوره ډکه شوې، پکار ده چې دولت او د دولت مخالفې ډلې خپل لوری معلوم کړي او پرې نږدي چې په جګړه کې ولسي خلکو ته زیان ورسیږي.

د ملکي وکړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ موندنو ښودلې چې د روان ۲۰۱۷ کال تېره جولای میاشت کې تر ټولو زیاته ملکي مرګ ژوبله لومړی هرات ور پسې غور، کابل او ننګرهار ولایتونو کې رامنځته شوې ده.

د یادې مرګ ژوبلې تر ټولو لوی عوامل موټر بم بریدونه، د سړک غاړې ماینونه او د دولت او مخالفینو تر منځ یې مخامخ نښتې ښودل شوې دي.

د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ غږي په یو شمېر ولایتونو کې د روان کړکیچ له کبله د ملکي خلکو ژوند ته اندېښمن د ي. همدارنګه د ګروپ استازي د غور ولایت د تیورې ولسوالۍ په ملکي رغتون کې د ملکي خلکو وژنه ،کابل او هرات کې زړه بوږنوونکي بریدونه او تېره ورځ د سرپل ولایت په صیاد ولسوالۍ کې له نښتو وروسته د ملکی خلکو عام وژنه په کلکو ټکو غندي او له دولت څخه غوښتنه کوي چې د یاد و ترهګریزو پېښو قربانیانو ته دې مالي او معنوي مرستې ورکړي.

د ګروپ د پلټنو له مخې په ننګرهار او کندهار ولایتونو کې د تېرې میاشتې هدفي بریدونو هم د خلکو اندېښنې زیاتې کړې دي.

د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ پر وسله‌والو مخالفینو ډلو غږ کوي چې د ملکي وګړو په ګڼ میشتو سیمو کې دې له ملکي خلکو له وژنو په کلکه ډډه وکړي، او له دولت څخه هم په جدي توګه غواړي چې د عملیاتو پر مهال دې امنیتي سرتیرې په دې و پوهوي چې ملکي وګړو ته زیان ونه رسوي.

د دې ټولو تر څنګ له بهرنیو ځواکونو څخه غواړي چې د هوایي بریدونو او نورو عملیاتو پر مهال دې تر کره کورډیناټ وروسته بریدونه تر سره کړي ځکه دا نور د زغم وړ نه ده چې پر ملکي وګړو او عام المنفعه ځایونو بمبار وشي.

همدارنګه له ولسي خلکو غوښتنه کوو چې په جنګي حالاتو کې دې د خپلې سر پنا ه لپاره امن سیمو ته ولاړ شي تر څو له ړندو مرمیو او بمباریو څخه په امن کې پاته شي.

پای